مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین

۲۰۲۶/۰۹/۲۲

# د ځوانان ځواک

## (څلورمه‌برخه)

په تېره برخه کې هم سوشل میډیا او ټولنیزو رسنیو ته اشاره وشوه چې پر ځوانانو دواړه مثبت او منفي اغېزې لري، خو برعکس سم مدیریت یې د وخت مهمه اړتیا لیدل کېږي.

د وخت د غوښتنو او اړتیاوو په نظر کې نیولو سره، دا یو واقیعیت دی چې مثبتې اغېزې او ګټې یې د علمي او معلوماتي پرمختګ په هکله چې ځوانان پرې کولی شي د نوو علومو، ژبو او روزنیزو کورسونو زده‌کړه د انلاین په توګه ترې تر سره کړي، نړیوالې اړیکې ټینګې او د نړۍ له مختلفو خلکو سره د فکرونو د تبادلې او د تجربو د شریکولو د اسانتیاوو په خاطر ګټه ترې اخیستلای وشي.

په اوسنۍ زمانه کې ډېری ځوانان د انټرنیټ او سوشل میډیا پرمټ د انلاین کاروبارونو، ډیجیټل مارکیټینګ له لارې عاید تر لاسه کوي، چې دا ډول کاروبار بې له دې چې ځوانان خورا انرژي او زیات وخت مصرف کړي هم بهتره سرمایه تر لاسه کولای شي او هم خپلو نورو چارو ته لاس رسی پیدا کولای شي.

هغه ځوانان چې بې له پلاني موخو، د کمپیوټر، ټیلیفون اویا داسې نورو د لېد وسایلو سکرین ته ناست وي، د روحي او فزیکي ستونزو سره مخ کېږي چې د ډېر وخت لپاره سکرین ته کښېناستل د سترګو د کمزورتیا، د ملا د درد، او د خپګان له لاملونو سره مخ کیدای شي.

همدا ډول هغه ځوانان چې له میډیا او رسنیو نه معقوله استفاده نه کوي او د فکري او اخلاقي بېلارې کولو پروګرامونو باندې خپل وخت ضایع کوي، طبعی ده چې ناسمه او بې محتوا پروګرامونه او تبصرې نه یوازې ځوانان متضرر او بې لارې کوي، بلکې د ټولنې فکري او اخلاقي بنسټونه هم زیانمنولای شي.

ځوان نسل باید د سوشل میډیا کارولو لپاره مشخص وخت وټاکي، تر څو پر نورو ورځنیو چارو او زده‌کړو یې ناوړه اغېز ونه‌کړي. د فیسبوک، یوټیوب او ټیک ټاک پر ځای باید د علمي، تخنیکي او روزنیزو پاڼو او چینلونو تعقیب ته لومړیتوب ورکړل شي. همدا ډول باید له ټولنیزو رسنیو نه د سرګرمیو پر ځای د یوې قوي وسیلې په توګه د ځان د لوړولو او مثبت بدلون لپاره کار واخستل شي.

د ځوانانو ځواک د ځوانۍ انرژي او وړتیا د هرې ټولنې د پرمختګ، بدلون او راتلونکې ترټولو مهمه سرچینه ده. ځوانان یوازې د یو هیواد راتلونکې نه دي، بلکې هغوي د نن ورځې ترټولو فعاله او محرکه قوه او طاقت دي.

که چېرې د ځوانانو د ځواک اصلي او مهمو اړخونو ته کتنه وشي، ځوانان د نوی فکر او خلاقیت خاوندان دي، د عصري علومو او نوې ټکنالوژۍ پر زده‌کړه او کارولو کې تر ټولو مخکښ دي. ځوان ځواک کولای شي په ټولنه کې د ناوړو او پخوانیو رواجونو مخه ونیسي. همدا ډول د اقتصادي او فزیکي انرژۍ په برخه کې د یوې ټولنې تولیدي او اقتصادي فعالیتونه د ځوانانو پر اوږو وي. د سختو کارونو، بیارغونې او دفاع په ډګرونو کې د دوی فزیکي انرژي بې ساری وي. ډېری نوې کاروبارونه د ځوانانو لخوا پیل کیږي. ځوانان کولای شي په ټولنه کې د سولې، ملي یووالي او شعور په خپرولو کې د پام وړ رول ولوبوي.

د حق غوښتنې او عدالت په لار کې د ځوانانو غږ تر ټولو رسا او اغېزمن وي. د ځوانانو دغه ځواک هغه وخت مثبته پایله ورکوي چې سمه روزنه، لوړې زده کړې، د کار زمینه او د پرېکړو، تصمیمونو په برخه کې ورته د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ګډون چانس ورکړ شي. که نه دغه ځواک د بېکارۍ، ناسمي رهبرۍ اولاربښووني له امله په منفي لارو هم اوښتلی شي.

باید وویل شي چي د ځوانانو د ځواک نه هغه وخت په یوه ټولنه یا نظام کي مثبتي لاسته راوړني تر لاسه کیدای چي سوله او امنیت وي، وسایل او شرایط د کار او فعالیت ورته مساعد وي.

په ډېرې خواشېنۍ سره چي پر ګران هېواد افغانستان کي د شوروي اتحاد د بي شرمانه یرغل وروسته په هېواد کي د نورو سلګونو ستونزو تر څنګ تر بل هر څه ځوان نسل او په خاص ډول نجوني او ښځي خورا متضرري شوې.

د ځوان نسل د سرشار ځواک نه حریصو ګاونډیو پاکستان او اېران هر ډول مشروع او نا مشروع ګټي پورته کړي اکثریت ځوانان د نیابتي جګړي ښکار شوول، له دغه سرشار ځواک نه د هېواد د ورانونو، ورور وژنو په برخو کي کار واخستل شو او په بهرنیو هېوادو کي په نیابتي جګړهایزو فعالیتونو کي ترې ناوړه او غیرعادلانه ګټه پورته شوه.

د امریکا په شل کلن اشغال کي هم ځوانان له سختو کړاونو سره مخ شوول، د یومافیایي پالیسیو په عملي کولو سره یوازې د څو محدودو جنګ سالارنو اولادونه د هر ډول مادي او معنوي امتیازاتو نه برخمن شول پاتي اکثر ځوانان د خپل ژوند د بقا په خاطر هېواد پرېښودو ته اړ شول، ډېرو بګنونکو پیښو وښوده چي په زرګونه ځوانان ښځي او ماشومان د قاچاقبرانو د غلطو حرکاتو ښکار شول، دغو ځوانانو د ایران، ترکیې، یونان په پولو کي خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړ، په بحر کي غرق او د کبانو خوراک وګرزیدل.

په هېواد کي دننه د دموکراسۍ نه په ناوړو استفادو، فساد او غیر اخلاقي کړنو، فحش او نورو منفي پدیدو د هېواد ځوان نسل، ځواني نجوني او ښځي د نامشروع فعالیتونو خواته وهڅول شوول.

د فساد بیلا بیل دولونو، ملکوطوایفي، بهرنیو لاسوهنو، په دولت، حکومت او نظام کي څوګونو پالیسیو ورځ تر بلي د نظام ستني کاواکه کړي، بهرنیو ځواکونو په خاص ډول اشغالګر امریکا نور د په هېواد مینو افغان جنګیالیو د جنګ جګړو توان نه درلود په اقتصادي او نظامي دګر کي له ماتي سره مخ شوول، بلاخره ناکام او شرمیدلي زموږ له ګران هېواد افغانستان نه په تیښته ووتل او د طالبانو د دویمي واکمني له پاره لا مناسبه زمینه برابره شوه.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ